**د ډولکي ایپ د معلوماتو ساتنې په باره کی اعلامیه**

## 1. عمومي معلومات

د ډولکي ایپ د ورځني پاملرنې مرکز کې د تحصیلي مسلکیانو او د والدینو تر مینځ د اړیکو ملاتړ کوي. دولکی د ورځنې پاملرنې پیغامونه په اوو ژبو کې وړاندی کوي او مستقیم د ورځنی پاملرنې له لاری والدین ته پیغامونو لیږي. دغه پیامونه یا خبرونه له شپږ کټګوریو څخه غوره کیدی شي. هره جمله د آډیو له لارې هم اوریدل کیدی شي.

د دې اپلیکیشن چمتو کولو سره هیڅ اقتصادي ګټه مربوط ندی. له همدې امله د معلوماتو کارول د اقتصادی ګټې له هدف پرته ترسره کیږي. که چیرې د اوسنې معتبرو عمومي معلوماتو ساتنې مقرراتو څخه سرغړونه وشي ، نو دا به ژر تر ژره د پوهیدلو یی وروسته به یې مخنوی وشي.

ستاسو د شخصي معلوماتو محافظت موږ لپاره ډیر مهم دی. پدی اعلامیه کی لاندی تکی لوستلی شئ:

- کوم معلومات چې موږ راټولوو
- موږ څنګه ستاسو معلومات اداره کوو
- ستاسو د معلوماتو په تړاو تاسو کوم حقونه لرئ.

پدې اعالمیه کې په ځینو نقطو کې ، د معلوماتو د محافظت عمومي ریاست (DSGVO) ته مراجعه کیږي؛ د EU مقرراتو بشپړ متن په انټرنیټ کې په وړیا شکل د لاسرسي وړ دی.

## 2. څوک د معلوماتو پروسس کولو مسؤلیت لري؟

**ستاسو د اړیکي شخص څوک دی که تاسو د معلوماتو ساتنې په اړه کومه پوښتنه لرئ؟**

په دی اره د دې ایپ خپرونکی "Kindererde gGmbH " مسؤل دی ، Winterfeldtstr. 31, 10781 Berlin. که تاسو کومه پوښتنه لرئ ، تاسو کولی شئ موږ سره د تلیفون یا بریښنالیک له لارې اړیکه ونیسئ:

تلیفون 79 69 33 24 30(0) 49+

د بریښنالیک آدرس: dolki@dolpaep.de

## 3. د معلوماتو پروسس کول کله چې اپلیکیشن ډاونلوډ کوئ

که تاسو د ګوګل پلی څخه دا اپلیکیشن ډاونلوډ کوئ ، د ګوګل د معلوماتو ساتنې مقررات پلي کیږي. تاسو کولی شئ د دوی په اړه نور معلومات دلته ومومئ:

https://policies.google.com/privacy?hl=de&gl=de

### 4. د معلوماتو پروسس کول کله چې APP کارول کیږی

د معلوماتو پروسس کولو قانوني اساس 6 ماده 1 پراگراف S. 1 lit. f DSGVO دی

#### 4.1. کوم معلومات ثبت کیږی ؟

د ډولکي ایپ کارولو لپاره ، دا ستاسو لپاره اړین ندي چې شخصي معلومات چمتو کړي. د دې لپاره چې ایپ په سمه توګه کار وکړي ، لاندې معلومات باید هرکله چې اپلیکیشن اپډیت کیږي راټول شي:

(1) د استفاده کوونکی شخص IP پته

(2) د فایل د لاسرسی URL

()) د لاس رسي نیټه او وخت

(4) د لیږدول شوي ډیټا مقدار

(5) دا پیغام چې ایا استفاده کول بریالی و

(6) د کارونکي د کارول شوي ډول تفصیل

#### 4.2. دا ډاټا څنګه کارول کیږي؟

کله چې تاسو اپلیکیشن خلاص کړئ ، دا به په اوتومات ډول اپډیت شي. پورتني معلومات په یو فایل کې ثبت شی. دا معلومات په شخصي ډول نه کارول کیږی او د پیژندلو اجازه نشته. نو ستاسو هویت تل خوندي دی.

راټول شوي ډاټا په مستعار نومونو نومول شوي. دوی یوازې د احصایې له مخې ارزول کیږي. دا پدې مانا ده چې موږ کولی شو ډاټا وکاروو ترڅو پوه شو چې څومره ځله د ډولکي ایپ کارول کیږي. مګر موږ نه پوهیږو څوک دا ایپ کاروي. دا پدی خاطر چې موږ ګورو چې څنګه د ډولکي ایپ محبوبیت لری.

دا اړینه ده چې پورتني معلومات راټول کړئ ترڅو د ډولکي ایپ په اسانی سره کار وکړي. دا د اپلیکیشن او سرور تر مینځ د اړیکي وړ کولو یوازینی لار ده ، د اپلیکیشن ساتنه او د خطا د شناسایی لپاره.

#### 4.3. ایا زما د کارولو چلند به وارزول شي؟

موږ یوازې د کارولو شمیره راټولوو ، پرته لدې چې څوک څرنګه د ډولکي ایپ کاروي (4.2 وګورئ). د کاروني چلند نور ارزوني شتون نلري.

#### 4.4. ستاسو معلومات به څومره وخت ثبت شی؟

ثبت شوي ارقام عموما د 3 ورځو وروسته پاک کیږي ، په وروستي وخت کې له 7 ورځو وروسته.

#### 4.5. ستاسو معلومات چیرته پروسس کیږي؟

ستاسو معلومات به په آلمان او نورو اروپایي هیوادونو کې پروسس شي.

#### 4.6. ستاسو معلومات به چا ته ورکړل شي؟

ستاسو معلومات به د قرارداد کمپنی ته چې دا معلومات ارزیابی کوی وسپارل شي. دا هغه شرکتونه دي چې موږ د قانون ، د 28 ماده د DSGVO لخوا چمتو شوي چوکاټ کې د معلوماتو ارزیابی کولو لپاره مقرر شوی (د خدماتو وراندی کونکي ، د خدماتو اجنټان). پدې حالت کې ، موږ هم ستاسو د معلوماتو خوندي ساتلو لپاره مسؤل یو. موږ شرکتونه په ځانګړي ډول پدی برخو کې: آی ټي او مشورې لپاره استخدام کوو. اوس مهال دا د T-Systems International GmbH او HENKELHIEDL GmbH & Co KG دي.

په ځینو مواردو کې ، موږ قانوني ډول مکلف یو چې غوښتونکي دولتي ادارې ته ځیني معلومات ولیږدوو.

هیڅ معلومات د اقتصادي موخو لپاره دریمي ډلي ته نه لیږدول کیږي.

### 5. کوکیز

موږ د ځانګړي وړاندیزونو لپاره کوکیز کاروو. دا کوچني متن فایلونه دي چې ستاسو په ګرځنده تلیفون کې خوندي شوي دي. پدې توګه دا پیژندل کیدی شي چې تاسو زموږ له غوښتنلیک څخه څو ځله لیدنه کوئ. پدې توګه ، د مثال په توګه ، هغه ژبه چې تاسو غوره کړې ده خوندي شوې او هرکله چې تاسو یې وکاروئ په اتومات شکل وټاکل نشئ.

## 6. ستاسو حقونه کوم دي؟

تاسو حق لرئ:

1. د پروسس شوي معلوماتو د کټګوریو په اړه د معلوماتو غوښتنه کول ، د پروسس کولو د اهدافو ، د معلوماتو لاسته راوړونکي ، د ثبتولو لپاره پلان شوی موده (ماده. 15 DSGVO)
2. د ناسم یا نامکمل معلوماتو د سمولو یا اضافه کولو غوښتنه کول (ماده 16 DSGVO)
3. د راتلونکي لپاره په اغیزمنه توګه هر وخت ورکړل شوې رضایت لغوه کول (ماده 7 پاراګراف. 3 DSGVO)
4. د معلوماتو پروسس کولو باندې اعتراض کول چې د هغه دلیلونو لپاره ستاسو د ځانګړي وضعیت څخه رامینځته کیدو لپاره د مشروع ګټو پر اساس ترسره کیږي (ماده. 21 پراګراف 1 DSGVO)
5. د قانون د 17 ماده د DSGVO په چوکاټ کې په ځینو مواردو کې د معلوماتو حذف کولو غوښتنه کول - په ځانګړي توګه که ډاټا نور د مطلوب هدف لپاره اړتیا نلري یا غیرقانوني ډول پروسس کیږي ، یا تاسو د پورته (3) سره سم خپل رضایت لغوه کړئ. یا پورته توضیح شوی (4) سره سم کوم یو اعتراض لری.
6. د ځانګړو شرایطو لاندې د معلوماتو محدودیت غوښتنه کول که چیرې حذف کول ممکن نه وي یا د حذف کولو مسله په شخړه کې وي (ماده. 18 DSGVO)
7. د معلوماتو پروسس کولو په اړه مسؤل نظارت کونکي چارواکو ته شکایت کول (د مخابراتو قراردادونو لپاره: د معلوماتو ساتنې او معلوماتو آزادي لپاره فدرال کمیشنر).

## 7. تازه معلومات او د معلوماتو ساتنې اعلامیه کې بدلون

د معلوماتو د محافظت اعلامیه دا مهال د اعتبار وړ ده او د **مې 2021** نیټه ده.

زموږ د ایپ پرمختګ یا د بدل شوي قانوني یا رسمي غوښتنو له امله ، ممکن د دې معلوماتو خوندي کولو اعالمیه بدلولو ته اړتیا ولري. تاسو کولی شئ په ایپ کې هر وخت د معلوماتو د محافظت اعلامیې وګورئ.

د معلوماتو خوندي کولو اعلامیه په بهترینه پوهه ژباړل شوې؛ د المانی کاپی پر بنسټ.